# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۴۰۰ د چنگاښ ۱٦مه | د ۲۰۲۱ د جولای اوومه | ۷۴٦مه ګڼه


## کتاب

۴ مخ

### کیمیایي عنصرونه




ډېرى پوهان داسې ګڼي چې په ژوندي اورګانېزم کې نه يوازې ټول کیمیايي عنصرونه شته، بلکې هر يو يې ټاکلې بيولوژيکي دنده سرته رسوي.

## سوداګرۍ وزارت: د ننګرهار توليدي فابريکو ۱۲ زرو کسانو ته کاري زمينه برابره کړې



د سوداګرۍ او صنعت وزارت چارواکي وايي چې د ننګرهار ولايت په فابريکو کې اوسمهال ۱۲ زرو کسانو ته د کار زمينه برابره شوې ده.

د ياد وزارت وياند فواد احمدي وايي چې اوسمهال د ننګرهار په مرکز جلال اباد ښار او صنعتي ښار ګوټو کې د ۲۰۰ ميليونو امريکايي ډالرو په پانګونې ۳۵۰ توليدي فابريکې فعاليت کوي، چې پکې ۱۲ زرو کسانو ته د کار کولو زمينه برابره شوې ده.د نوموړي په خبره، دغه فابريکې د المونيمي او پلاستيکي لوښو، کرنيزو وسايلو، تربښر، مرمر ډبرو، اوسپنې ويلي کولو، د بېټريو تېزابو، سيخ جوړولو، د هايدروجن او نايتروجن توليد، ايوډين لرونکي مالګې، صابون، شامپو، نباتي غوړيو، معدني اوبو، غالۍ اوبدلو، يخ جوړولو، فرنيچرو، د چرګانو خوراکي توکي، کېک، کلچې، غير الکولي مشروباتو او نورو توکو په برخو کې فعاليت کوي.
احمدي زياتوي، دغه توليدات د هېواد پر ولايتونو سربېره پاکستان، تاجکستان، ازبيکستان او اروپايي هېوادونو ته هم صادرېږي.

# افغان جګړه او سيمه‌ييزې اندېښنې؛

## محب: په هېواد کې د جګړو شدت ګاونډي او سيمه‌ييز هېوادونه اندېښمن کړي



۵

## تبليغاتي جګړه، د رسنيو که د حکومت دنده؟

۲ مخ

## په افغانستان کې د اوږدې جګړې پای او له مجازاتو څخه د معافيت د ميراث دوام

۲ مخ

## یوناما: د تاوتريخوالي د کمولو يوازينۍ لار د سولې خبرو پيلول دي

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې ديبورا لاينز قطر ته د خپل سفر په مهال د طالبانو له مرکچي پلاوي سره د افغان سولې له بهير څخه د ملګرو ملتونو د ملاتړ په اړه خبرې کړې دي. یوناما پر خپله ټويټر پاڼه ليکلي، چې د سولې د مذاکراتو بېرته پيلول په افغانستان کې د تاوتريخوالي د پای ته رسولو يوازينۍ لاره ده. یوناما زياته کړې: «د سولې مذاکرات بايد رښتيني وي او د جګړې د پای ته رسولو او د افغانستان خلکو ته د هيلې ښودلو لپاره بايد ورته لومړيتوب ورکړل شي».
ټاکل شوې چې الاينز په قطر کې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د مرکچي پلاوي سره هم خبرې وکړي. دا په داسې حال کې ده چې په دوحه کې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او د طالبانو د مرکچي پلاوو ترمنځ بين‌الافغاني مذاکرات له څه مودې راهيسې په ټپه ولاړ وو، خو اوس ويل کېږي چې دا خبرې بېرته پيلېدونکې دي.
تر دې وړاندې چارواکو ويلي چې په وروستيو اونيو کې د دواړو خواو ترمنځ هېڅ غونډه نه ده شوې. یوناما له دې مخکې هم ويلي وو چې ملګري ملتونه به د سولې هڅو د جاري ساتلو او يو عادلانه او تلپاتې توافق ته د رسېدلو لپاره د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او د طالبانو له استازو سره خپلو سلامشورو ته دوام ورکړي.
یوناما ټينګار کړی، چې په افغانستان کې د سولې د ټينګولو لپاره هڅې بايد له خنډ او ځنډ سره مخ نه شي.

## افغان حکومت: رسنۍ دې سرې کرښې مراعات کړي او د بيان له ازادۍ دې ناوړه استفاده نه کوي



۵ مخ

## یونسیف: ۱۱۰ هزار کودک افغان بخاطر خشکسالی در معرض سوء تغذیه قرار دارند



صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل متحد یا یونسیف اعلام کرده است که خشک‌سالی در افغانستان بیش از ۱۰۰ هزار کودک را در معرض سوءتغذیه قرار خواهد داد.
نماینده‌گی یونسیف در افغانستان در رشته توییت‌هایی گفته است که خشک‌سالی در افغانستان می‌تواند ۱۱۰ هزار کودک را در این کشور دچار سوء تغذیه کند.
طبق اعلام یونسیف، در حال حاضر ۲.۸ میلیون کودک در افغانستان از سوء تغذیه شدید رنج می‌برند.
از سویی هم، یونیسف گفته است که این نهاد در سال ۲۰۲۰ به کمک نهادهای بین‌المللی ۳۰۰هزار کودک را که دچار سوءتغذیه شدید بودند، درمان کرده است.
در همین حال، اتحادیه اروپا در توییتی گفته است که به دلیل خشکسالی ۱۱ میلیون تن در افغانستان به بحران غذایی مواجه هستند و ۳.۲ میلیون دیگر در وضعیت اضطراری دسترسی به غذا قرار دارند.
از این رو این اتحادیه ۲۵ میلیون یورو را در قالب کمک‌های بشردوستانه برای افراد نیازمند شدید به غذا اختصاص داده است. پیش‌بینی شده است که حاصلات زراعتی از جمله گندم در افغانستان در سال جاری به دلیل کمبود آب ناشی از خشک‌سالی کاهش یابد.
دولت اعلام کرده است که برای رسیده‌گی افراد آسیب‌دیده از خشک‌سالی برنامه ویژه روی دست دارد.


کتاب مو د ژوند ملګرې کړئ

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی

کابل دريمه ناحيه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652
Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af
aksosbookstore@gmail.com

سرلیکنه

## تبلیغاتي جگړه، د رسنیو که د حکومت دنده؟

په دې وروستیو کې حکومتي چارواکي پرله‌پسې وايي چې طالبانو دومره پرمختګ نه دی کړی، لکه څومره چې ورته تبلیغات کېږي. حکومتي چارواکي؛ رسنی، ژورنالېستان، په ټولنیزو رسنیو کې ځیني فعالین او ان ځینې سیاستوال د طالبانو په ګټه په تبلیغ تورنوي. حکومتي چارواکي پر دوی غږ کوي چې په دغو تبلیغاتو کې برخه وانه خلي او د ولسوالیو د سقوط او نورو امنیتي مسایلو خبرونه خپاره نه کړي او په دې ډول د خپل حکومت، امنیتي ځواکونو او نظام ملاتړ وکړي. ځینې حکومتي اداري او چارواکي خو ان د هغوی پر وړاندې د ګام اخیستو ګواښ کوي چې د دوی په وینا د دښمن په ګټه تبلیغات کوي. پرون په دې اړه د لوی څارنوال او څو وزیرانو په ګډون یوه غونډه هم وشوه، له رسنیو او ژورنالېستانو وغوښتل شول چې ګواکې د ترهګرۍ پر ضد تبلیغاتي جګړه کې برخه واخلي.

دا نه شي ردېدلی چې ځینې رسنی او ژورنالېستان په شعوري او نا شعوري ډول د جګړې د یوه او بل لوري په ګټه تبلیغات کوي. دا تبلیغات به څه نا څه رول هم ولري، خو اصلي ستونزه په بل ځای کې ده. که رسنۍ هېڅ خپرونې هم ونه کړي او که هېڅ سیاسي کارپوه یا بل څوک د ولسوالیو د سقوط په اړه څه ونه لیکي، نو ستونزه حل کېږي!؟ نه، ځکه ولسوالۍ سقوط کوي او خلک خپله دا هر څه په خپلو سترګو ویني، نو ځکه اصلي لامل باید په تبلیغاتو کې نه، بلکې په بل څه کې ولټول شي.

که خبره د تبلیغاتو هم وي، نو واقعیت دا دی چې د طالبانو په نسبت د حکومت په ګټه زیات تبلیغات کېږي. د اطلاعاتو او کلتور وزارت سره ثبت شوي ۳۵۷۷ رسنۍ نږدې ټولې د حکومت تر کنټرول لاندې سیمو کې فعالیت کوي. له دې ډلې ۲۴۸ ټلویزیونونه ټول په ښارونو کې دي، حکومت ته مالیه ورکوي او هره ورځ یې خبریالانو د حکومتي چارواکو او ویندویانو خولو ته مایکونه نیولي وي. هره خپرونه او سیاسي بحث یې د حکومتي چارواکو او ویندویانو لپاره ستېج دی، نو بیا ولې ګیله کېږي چې رسنۍ او ژورنالېستان د حکومت پر ضد او د طالبانو په ګټه تبلیغات کوي!؟ لومړی خو د طالبانو په ګټه د تبلیغاتو په تړاو د حکومتي چارواکو ادعا سمه نه ده، خو که سمه هم وي، بیا هم مسوول حکومتي چارواکي دي چې ولې یې تر واکمنۍ لاندې رسنۍ داسې کار کوي.

بله مهمه مسئله دا ده چې د رسنیو دنده د یوه او بل لوري په ګټه تبلیغات نه دي. د رسنیو دنده ده چې واقعیتونه هغسې خلکو ته ورسوي څنګه چې دي. که رسنۍ د واقعیتونو خلاف خپرونې کوي، بیا نو ترې پوښتنه هم کېدلی شي او پر وړاندې یې ګام هم اخیستل کېدلی شي. حکومتي چارواکي باید هېره نه کړي چې تبلیغات د جګړې په شان د دولت دنده ده. د حکومت تبلیغاتي دستګاه خپله ناکاره او ناکامه ده، نو ځکه پړه پر رسنیو اچوي. د ولسمشرۍ مطبوعاتي دفتر، په ارګ د ستراتیژیکو او عامه اړیکو پرسېدلی دفتر، د حکومت د رسنیو مرکز، اطلاعاتو او کلتور وزارت، په هر وزارت کې وياند او ورسره د نشراتو لوی ټیم، د هر والي مطبوعاتي دفتر، د امنیه قومندانانو مطبوعاتي دفترونه، همداسې د قول اردوګانو مطبوعاتي دفترونه او ډېر نور دفترونه او ویندویان څه کوي!؟ دوی پر څه بوخت دي!؟ ولې غواړي چې د دوی کار هم نور خلک وکړي!؟ دا هغه پوښتنې دي چې حکومتي چارواکي یې باید ځواب کړي او خپله ستونزه دې حل کړي. له دې پرته پر رسنیو او ژورنالېستانو فشار راوړل او یا هم په تبلیغاتي جګړو کې یې ور ګډول نه قانوني دي او نه به هم کومه مثبته پایله ولري.

# په افغانستان کې د اوږدې جګړې پای او له مجازاتو څخه د معافیت د میراث دوام

لیکنه: شهرزاد اکبر ژباړه: صدیق دقیق

نړیوال نظامي ځواکونه چې له افغانستان څخه وځي، نه یوازې دا چې زموږ هېواد ته سخته جګړه او نامعلوم راتلونکی پرېږدي، بلکې له جزا څخه د معافیت میراث هم راته پرېږدي چې په راتلونکو کلونو کې سولې او عدالت ته د لاسرسي هیله کمزورې کوي.

د کلونو کلونو جګړې په اوږدو کې نړیوالې ټولنې او د افغانستان دولت ته هیڅکله د جګړې د ملکي قربانیانو حقونه په لومړیتوب کې نه وو. د عدالت د تامین او ځواب ویلو لپاره هره هڅه د افغانستان د رهبرانو لخوا په فعال ډول شنډه شوې ده. نړیواله ټولنه په دې برخه کې چوپه خوله ده او د امریکا متحد ایالات په فعال ډول د افغانستان په اړه د نړیوالې جزایي محکمې (ICC) د څېړنو خنډ شوي دي. اوس چې نړیوال ځواکونه وځي، لږ تر لږه یو کار چې متحده ایالات او د افغانستان په شخړه کې ښکېل هېوادونه یې کولای شي، دا دی چې د دوی د خپلو ځواکونو له لوري د ناوړه استفادې معتبرو ادعاوو او هغو کسانو ته چې د بشر حقونو او نړیوالو بشر پالو حقونو د نقض له امله زیانمن شوي، رسېدګي او د قرباني محوره عدالت لپاره د ملي اقداماتو سیاسي ملاتړ وکړي.

### له دې وضعیت څخه د افغانانو برداشت

په رسنیو کې د ملکیانو پر وړاندې د نیول شویو کسانو د شکنجې او له هغوی سره د ناوړه چلند په ګډون، د هغو سرغړونو او زیانونو ډېر معتبر تورونه او څېړنې شته چې یا یوازې بهرنیو ځواکونو کړي دي او یا یې د افغانستان له امنیتي ځواکونو سره په ګډه د هوایي بریدونو او شپنیو عملیاتو پر مهال مرتکب شوي دي. په داسې حال کې چې د متحده ایالاتو په ګډون په افغانستان کې د ښکېلو هېوادونو مشرانو دې ته ترجیح ور کړې ده، چې په خپلو عمومي ویناوو کې د نظامي نښتو د دې اړخ په اړه څه و نه وایي، پر قربانیانو یې اوس ناوړه اغېز پاتې دی او د افغانانو عمومي افکارو هغه نه دي هېر کړي.

عبدالستار، د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسیون ته چې زه یې د ریاست دنده لرم، وویل چې د ۲۰۰۹ کال د مې میاشتې په ۴مه د فراه په بالا بلوک کې په هوایي برید کې د هغه د کورنۍ ۱۶ غړي وژل شوي دي. دا هوایي برید هغه وخت وشو چې افغان ځواکونو د امریکا هوایي مرسته وغوښتنه. امریکایي ځواکونو کورونه او یو جومات بمبار کړل. د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسیون موندنې ښیي چې په دې برید کې د ۲۱ ښځو او ۶۵ ماشومانو په ګډون ۹۷ تنه وژل شوي او ۱۹ نور ټپیان شوي دي. د سیمې خلک او د قربانیانو خپلوان په فقر کې ژوند کوي، د افغانستان د دولت لخوا د زیان جبران بېړنی او لنډمهاله و او د امریکایي ځواکونو لخوا اړول شویو زیانونو ته بشپړ پام نه دی شوی.

یوه بله بېلګه چې ټولې افغاني ټولنې ته یې ټکان ور کړ، د ۲۰۰۸ کال د اګست په ۲۲مه د هرات ولایت په عزیز اباد کې هوایي برید و. په دې پېښه کې چې د افغان او امریکایي ځواکونو په ګډو عملیاتو کې وشوه، ۹۱ تنه ووژل شول. د ۵ میاشتنیو او ۱۸ کلنو تر منځ ۶۰ ماشومان، ۱۶ ښځې او د لوړ عمر لرونکي وګړي پکې شامل وو. بمبار په ځایي وخت د شپې په ۲ بجې پیل شو او د سهار تر ۸ بجو یې دوام درلود. تر عملیاتو وړاندې د هرات د والي او امنیه قومندان په ګډون له ځایي چارواکو سره مشوره نه وه شوې او هغوی ته خبر هم نه و ورکړل شوی. برید د یوه افغان قراردادي د ناسمو او غولوونکو اطلاعاتو پر بنسټ شوی و.

حاجي عبدالرشید چې وايي د کورنۍ ۳۳ تنه یې وژل شوي دي، تر برید ۱۳ کاله وروسته یې موږ ته وویل چې په کلي کې تر اوسه د هغه برید ویجاړۍ پاتې دي. ګل‌رخ چې په دې برید کې ټپي شوې وه، اوس هم فلج ده. کورنۍ یې د کابل، پاکستان او هند روغتونونو ته یووړه، خو اوس هم په خپلو پښو نشي درېدلای.

په هغه شپه د دې ۶ اولادونه ووژل شول، په دې قضیه کې ښکېل دوه افغانان بندیان دي، خو قربانیان لا هم پر دې نه پوهېږي چې په دې پېښه کې له ښکېلو امریکایانو څېړنې شوې دي که نه. تر دې برید وروسته امریکایانو هڅه وکړه چې په خپلو عملیاتو کې اصلاحات راولي، خو دا هڅې لنډمهاله وې. په حقیقت کې ان د ۲۰۲۰ کال په جنوري کې د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسیون، په یوه میاشت کې د امریکایي ځواکونو ۵ ځله هوایي بریدونه ثبت کړل چې ملکي مرګ‌ژوبله یې اړولې وه او ۲۵ ملکي وګړي، چې ډېر یې ماشومان وو، پکې وژل شوي وو.

شپني بریدونه هم ملکیانو ته یو تر ټولو خونړی او زیان رسوونکی جنګي تاکتیک دی، چې ډېر وخت د ناسمو اطلاعاتو پر بنسټ کېږي او نه یوازې دا چې بېګناه وګړي پکې وژل شوي دي، بلکې د دې سبب شوي دي چې افغانان په خپلو کورونو کې له بهرنیو ځواکونو د ګواښ او نا امنۍ احساس وکړي. دا یو بل مورد دی چې امریکایي ځواکونو نه یوازې په ځواب ویلو کې غفلت کړی دی، بلکې په فعال ډول یې دا زیانونه او د حقونو احتمالي نقض پټ کړی دی.

د دې بریدونو په لړ کې چې ملکیان پکې زیانمن شوي، لکه په پکتیا کې شپنی برید چې ځانګړو امریکایي ځواکونو په ختابه کلي کې د یوې کورنۍ پر مراسمو وکړ، د دوو مېندوارو ښځو او یوې نجلۍ په ګډون ۵ ملکي وګړي پکې ووژل شول، په لومړیو کې په کابل کې امریکایي نظامي قوماندان ادعا وکړه چې د داسې ښځو له جسدونو سره مخ شوی دی چې په تړلیو لاسونو او خوله وژل شوې وې او په یوه خونه کې پټې کړل شوې وې. د یادې شوې کورنۍ یوه غړي، طاهر د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسیون ته وویل چې په انګړ کې تر ډزو وروسته یې دی او د ده ورونه له خونې بهر را و ایستل، لاسونه یې ور وتړل، سرونه یې په تورو کڅوړو ور پټ کړل او لوڅې پښې یې په واوره کې ودرول. د دې پېښې قربانیانو خپله دوسیه ICC ته سپارلې ده، خو کله چې موږ په مې میاشت کې له قربانیانو سره اړیکه ونیوله، هغوی تر هماغه وخته په افغانستان کې د څېړنې په اړه د ICC د وروستي یا پرېکنده تصمیم په اړه څه نه وو اورېدلي. ان که څېړنه هم وشي، یوازې څو مورده پکې شاملېږي؛ د هغو مواردو یوه بېلګه چې د روم اساسنامې پر بنسټ جنایت ګڼل کېږي، نور ډېر زیانونه چې د نړیوالو ځواکونو او د طالبانو ډلې لخوا تر سره شوي دي، پکې نه شاملېږي او ډېر قربانیان حقیقت او د زیان جبران ته له لاسرسي پاتې کېږي. ډېرې دوسیې بې ارزښته او کم رنګه کېږي، ځکه ICC هغو اطلاعاتو ته لاسرسی نه لري چې د نړیوالو ځواکونو په لاس کې دي او هغوی ښه پوهېږي چې څه پېښ شوي دي.

په داسې حال کې چې نړیوالو نظامي عملیاتو ملکي وګړو، کورنیو او کلیو ته مستقیم زیان رسولی دی، د روغتیایي خدماتو په ګډون پر عامه خدماتو او موسساتو یې هم منفي اغېز کړی دی او روغتیایي چارو او درملنې ته چې کله کله ورته ډېره اړتیا وي، د خلکو د لاسرسي د مخنیوي سبب شوي دي. صفي الله صدیقي، چې د ۲۰۱۵ کال په اکتوبر کې د کندز په MSF (بې پولې ډاکترانو) په روغتون کې ډاکتر و، وايي پر روغتون تر برید وروسته دومره زیان ورته رسېدلی دی چې هر وخت الوتکې تېرېږي، د هغوی له غږه وېرېږي چې هسې نه بیا بمبار وکړي. د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په ۳مه چې د طالبانو او دولتي ځواکونو تر منځ سخته جګړه روانه وه، پر روغتون یو ساعت بمبار وشو. په دې بمبار کې د کار کوونکو، ناروغانو او نرسانو په ګډون ۴۲ تنه ووژل شول. په داسې حال کې چې متحده ایالاتو د دغه پېښې مسوولیت پر غاړه واخیست او دا برید یې یوه پېښه وګڼله، MSF د افغانستان د دولت او متحده ایالاتو د څېړنو له موندنو خوښ نه وو او د خپلواکو څېړنو غوښتنه یې وکړه. د MSF ډلې فعالیت تر اوسه بشپړ عادي حالت ته نه دی ور ګرځېدلی. د ۲۰۱۶ کال په فبروري کې افغان ځواکونو د نړیوالو ځواکونو په ملاتړ په وردګ ولایت کې د افغانستان لپاره د سویډن کمېټې پر کلینیک برید وکړ، کار کوونکي یې ونیول او ویې وهل او دوه ناروغان او یو ماشوم یې ورسره یووړل او ویې وژل. د دې برید په اړه د افغانستان دولت او نړیوالو ځواکونو هېڅ ښکاره او پوره توضیح نه ده ورکړې.

د افغانستان د جګړې یو بل لوی لانجمن میراث د نړیوالو ځواکونو لخوا په زندانونو کې د شویو سرغړونو ادعاوې دي. د نړیوالې جزایي محکمې د څارنوال ارزونو، د شکنجې د سیاست په ګډون، په زندانونو کې سرغړونې ښوولې دي چې په ځانګړي ډول د متحده ایالاتو د نظامي مداخلې په لومړیو کلونو کې روانې وې. د متحده ایالاتو دولت اوس هم هڅه کوي چې د ګوانتنامو وروستي بندیان خلاص کړي. د فاحشو تېروتنو له امله د اوښتو زیانونو د جبران او په ډېرو مواردو کې د بشر حقونو د سیستماتیک نقض په اړه هېڅ بحث نه دی شوی.

له روڼتیا، حساب ورکولو او قربانیانو ته د اوښتو زیانونو له بشپړ جبران پرته، په دې عملیاتو کې د ملکیانو مرګ‌ژوبله له دولت او نړیوالو ځواکونو څخه د خلکو د لرېوالي پر یوه اصلي دلیل بدله شوې ده او هغوی یې د طالبانو غږېتوب ته سوق کړي دي چې دا کار خپله په هېواد کې له جزا د معافیت فرهنګ ځواکمنوي او د نړیوالو ځواکونو پر وړاندې د وېرې او بې باورۍ سبب کېږي. په حقیقت کې له مجازاتو د معافیت پراخ فرهنګ چې د افغانستان دولت رامنځته کړی دی او نړیواله ټولنه یې تحمل کوي، په دې مورد کې له شته بې مسوولیتۍ سره مل شوی دی او د هغو خلکو او سازمانونو هڅې یې کمزورې کړې دي، چې د قربانیانو حقونو ته د اړوندو بنسټونو او د افغانستان د ملي قوانینو پام را واړوي...

پاتې ۳مخ کې

## له مجازاتو د معافیت ختمېدل؛ پر متحده ایالاتو او متحدینو یې د افغانستان د خلکو پور

په داسې حال کې چې له افغانستان څخه د نړیوالو ځواکونو وتل لوېدیځو هېوادونو ته د جګړې د پای په مانا دي، خو هغه ملکیان چې د دې پېښو په پایله کې متضرر شوي دي، لا هم د ژوند او خپلو حقوقو د بایللو له پایلو څخه کړېږي. که د متحده ایالاتو نظامي ځواکونه او نور نړیوال ځواکونه د افغانستان ملکیانو ته د ور اوښتیو زیانونو د جبران په برخه کې له مشخصې ژمنې پرته ووځي؛ نو له مجازاتو معافیت به د دوی میراث وي چې په اوس او راتلونکي کې به د افغانانو پر ژوند ډېرې اغېزې وکړي.

لوېدیځ ډیموکرات او لیبرال دولتونه د بشر حقونو پر وړاندې د خپلې واقعي ژمنتیا د ښوولو لپاره مشخصې کړنې تر سره کولای شي. د جګړې د حساب کتاب پاکول به نه یوازې دا چې پر نړیوالو ځواکونو د پام وړ اغېز ولري، بلکې د جګړې افغان قربانیانو ته به هم ډېر موثر وي.

په افغانستان کې د استرالیایي ځواکونو څېړنې او پلټنې چې په ارزګان کې د دغه هېواد د ځانګړو ځواکونو د جنګي جنایتونو تورونه څېړي، د استرالیا د دولت لومړی موثر ګام دی؛ خو په دغه پروسه کې باید د افغان قربانیانو غږونه هم واورېدل شي او همدارنګه زیان د جبران لپاره سرچینې هم ځانګړې کړي.

له نړیوالې ټولنې تمه ده چې د بشر حقونو د نقض د ادعاوو څېړنه پیل کړي، تر سره شوي جرمونه په رسمیت وپېژني او قربانیانو ته اوښتی زیان جبران کړي. له دې هر څه سره سره نړیواله ټولنه د افغانانو تر دې هم زیاته پوروړې ده. د تېرو شلو کلونو پر خلاف د عدالت او ځواب ویلو لپاره د افغانستان د خلکو د پرله‌پسې هڅو چې له ۲۰۰۲ کال را وروسته څنډې ته شوي دي، ملاتړ وکړي. لوېدیځ دولتونه له مجازاتو څخه د معافیت فرهنګ په ترویجولو سره د تاریخي تېروتنې مرتکب شوي دي، خو اوس د دې فرصت لري چې خپله دغه تېروتنه سمه کړي؛ د دې لپاره باید عدالت ته د لاسرسي او ځواب‌ویلو لپاره د افغانانو د هڅو رښتینی ملاتړ وکړي. لاندې هغه اقدامات ښوول شوي دي چې دوی یې باید تر سره کړي. د افغانستان په اړه د حقیقت موندونکي یا د څېړنې د ځانګړي کمېسیون په برخه کې د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسیون د غوښتنې ملاتړ.

له افغانستان څخه د نړیوالو ځواکونو له وتلو سره هم‌مهاله په دې هېواد کې د مدني ټولنې، د رسنیو کارکوونکو، ښځو، ښوونیزو مرکزونو او قومي او مذهبي لږکیو پر وړاندې تاوتریخوالی او بریدونه د زیاتېدو په حال کې دي، خو بیا هم د افغانستان د حکومت پلټنې او څېړنې ډېرې ورو دي او یا اصلاً نشته. له بلې خوا د تاوتریخوالي د دوام او زیاتېدو په اړه وېرې او اندېښنې د پراخېدو په حال کې دي. دغو مواردو ته په کتو سره د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسیون د یوې اعلامیې په خپرولو سره په دې برخه کې د ملګرو ملتونو د حقیقت موندونکي پلاوي یا د پلټنې د کمېسیون له لارې د پراخې نړیوالې څارنې غوښتنه کړې ده. متحده ایالات او د نړیوالې ټولنې نور غړي هېوادونه باید حقیقت موندنې او ځواب‌ویلو او همدارنګه د بالقوه مخنیوونکو میکانېزمونو د ایجاد په برخه کې د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسیون د دې غوښتنې ملاتړ وکړي.

افغان قربانیانو ته د لا زیاتو اطلاعاتو د وړاندې کولو لپاره د څو اړخیز میکانېزم یا هم د متحده ایالاتو تر رهبرۍ لاندې میکانېزم ایجاد کړي.

د دغو عملیاتو قربانیان او د افغانستان عام خلک پر رښتیا د پوهېدو حق لري او همدارنګه باید د نړیوالو ځواکونو د پوځي عملیاتو په پایله کې ملکیانو ته د اوښتیو زیانونو راپورونو ته لاسرسی ولري. د هغو عملیاتو جزییات چې سهواً یا عمداً پکې ملکیانو ته ضرر رسېدلی وي، باید د ښکېلو حکومتونو لخوا خلکو ته ورکړل شي. دا کار به افغانستان او زیانمنو کسانو ته د ځواب‌ویلو په برخه کې یو مثبت ګام وي. هغو سازمانونو ته باید کافي سرچینې ورکړل شي او اړین ملاتړ یې وشي چې د دې ډول زیانونو د مستندولو په برخه کې یې کار کړی دی، چې خپلې موندنې له ولس سره شریکې کړي. د امریکا حکومت «د اطلاعاتو د ازادۍ قانون» د ټولو لګښتونو پروا و نه کړي او د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسیون او د قربانیانو د حقونو په نورو بنسټونو کې ثبت شوې غوښتنې په مؤثر او چټک ډول عملي کړي.

### په افغانستان کې په راتلونکي کې د حقیقت موندنې د هڅو ملاتړ

د افغانستان د جګړې په اړه د متحده ایالاتو آرشیف ته له لاسرسي څخه باید ملاتړ وشي او همدارنګه امریکا باید د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسیون او مدني ټولنې لخوا په دې هېواد کې د مستندولو هڅو ملاتړ وکړي. پر دې سربېره، متحده ایالات افغانانو ته حقیقت ته د لاسرسي، د زیان جبران او ځواب‌ویلو د حقوقو په اړه د زده‌کړو اورېدمهاله ملاتړ وکړي.

د متحده ایالاتو ولسمشر باید ملکي افغانانو ته د اوښتو زیانونو او د جبران د مسوولیت په اړه اجرایوي فرمان صادر کړي:

په دغه فرمان کې باید د څېړنې، پلټنې او ځواب‌ویلو برخې او همدارنګه قربانیانو او محلي ټولنو ته د فردي او ټولیز زیان جبران شامل وي.

### ناټو باید اطلاعات او د خساراتو جبران وړاندې کړي

له افغانستان څخه د نړیوالو ځواکونو له وتلو سره په هم‌مهاله توګه د ناټو په کچه ملکي افغانانو ته چې د دغو ځواکونو لخوا ورته په فردي یا هم ټولیز ډول زیان رسېدلی وي، د زیان د جبران او هر اړخیز بحث ته اړتیا ده.

ناټو باید؛

الف- د هغو ټولو «تسلیتي تادیاتو» اطلاعات چې په افغانستان کې د ناټو د غړیو لخوا د نظامي ځواکونو او پولیسو له لارې تر سره شوي، د قربانیانو د ډیټابېس د جوړولو لپاره د بنسټ په توګه د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسیون په اختیار کې ورکړي.

ب- له ناټو څخه د طالبانو یا هم نورو نادولتي وسله‌والو ډلو په اړه تر لاسه شوې شمېرې چې په افغانستان کې د قربانیانو د هویت او ځای په اړه معلومات لري، چمتو کړي.

ج- «د ناټو-ایساف تر عملیاتو وروسته د عاجل ځواب‌ویلو وجهي صندوق» باید پراخ او د ټولیزو زیانونو د جبران پر صندوق واړول شي.

### د جزا نړیوالې محکمې له پروسې ملاتړ او د لګښتونو برابرول

له دې ډلې د جنګي جنایتونو او د بشریت پر ضد جنایتونو قربانیانو ته د زیان د جبران؛ له یوې خوا په افغانستان کې د عدالت قوي سیستم نشتوالی او له بلې خوا د افغانستان دولت او نړیوالو شریکانو تر منځ د تړونونو؛ مثلاً «دوه اړخیز امنیتي تړون»، له امله د جزا نړیواله محکمه د هېواد د هغو وګړو لپاره چې د نړیوالو ځواکونو په عملیاتو کې زیانمن شوي دي، د عدالت غوښتنې پر یوازینۍ ادرس بدله شوې ده. د جزا نړیوالې محکمې پلټنې او څېړنې تر دې دمه له زیاتو لوړو ژورو را تېرې شوې دي چې د افغانستان حکومت د دغو پلټنو او څېړنو د ځنډولو غوښتنه هم پکې شامله ده. همدارنګه کله چې له لومړنیو پړاوونو تېرې شي؛ نو یوازې محدودې قضیې به وڅېړل شي. د ځواب‌ویلو او عدالت داډمنولو اخلاقي مسوولیت په خپله د ښکېلو دولتونو پر غاړه دی؛ د بېلګې په ډول، استرالیا په دې برخه کې ګام پورته کړی دی. له متحده ایالاتو، انګلستان او نورو ښکېلو هېوادونو څخه هم تمه دا ده چې په افغانستان کې ملکیانو ته د اوښتیو زیانونو د موثقو ادعاوو په اړه د پلټنو په پیلولو سره له دغه بهیر سره یو ځای شي.

سره له دې چې د روم معاهدې د زیانونو د جبران وړاندوینه کړې ده، خو د زیان جبران د جرم او مجرم په پېژندلو پورې مشروط دی. که څه هم فردي جزایي مسوولیت مهم دی او ممکن د جزا نړیوالې محکمې له لارې یې تر سره کړو، خو هغه په ملي کچه د انتقالي عدالت بهیر چې د افغانستان د تاریخ په تېرو اوږدو کلونو کې د وسله‌والو ښتو د لاملونو او پایلو د حقایقو بیان ته زمینه برابروي او همدارنګه د دغو ښتو قربانیانو ته د زیان د جبران ځایناستی کېدای نشي.

### د قرباني محوره ملي نوښتونو رښتینی ملاتړ

د افغانستان حکومت ملاتړي باید د نړیوالو جنایتونو د قربانیانو حقوق د افغانستان له قضایي او امنیتي بنسټونو سره د ملاتړ په لومړیتوبونو کې ځای پر ځای کړي. د هېواد د قضایي او امنیتي بنسټونو د قربانیانو ملاتړ یوازې په تخنیکي ملاتړ پورې محدود نشي؛ بلکې د نړیوالو ځواکونو، د افغانستان امنیتي ځواکونو، طالبانو او د دولت د مخالفو ډلو قربانیانو ته د حقیقت، عدالت او د زیان جبران ته د لاسرسي په برخو کې د مدني ټولنې او د بشر حقونو بنسټونو د غوښتنو ښکاره سیاسي ملاتړ هم پکې شامل وي. پر دې سربېره، نړیواله ټولنه باید د عدالت غوښتنې په موخه د سولې په پروسه کې د قربانیانو او د هغوی د غوښتنو د شاملولو لپاره د فشار له وسایلو څخه کار واخلي.

له مجازاتو څخه معافیت په افغانستان کې د ډېرو خلکو ژوند اخیستی دی او همدارنګه په هېواد کې د جګړې د اوږدېدو او خونړي کېدو لامل شوی دی. متحده ایالات او متحدین یې چې په افغانستان کې خپل مستقیم حضور پای ته رسوي، باید قربانیانو ته د زیان د جبران له ورکولو غافل نشي او همدارنګه په افغانستان کې له مجازاتو څخه د معافیت د فرهنګ په تداوم کې په خپل رول غور وکړي. که د جګړې اړخونه خپل حساب کتاب پوره پاک نه کړي، له مجازاتو څخه معافیت ختم نشي او د قربانیانو حقونو ته رسېدګي ونشي؛ نو په افغانستان کې هیڅکله هم تلپاتې سولې ته نشو رسېدلای. که متحده ایالات او متحدین یې له جګړې سره اړوند تاوتریخوالي د زیاتېدو او په افغانستان کې د وضعیت د لا خرابېدو پر ځای یوه معتبره کړنلاره خپله کړي؛ نو لومړی یې باید د خپل ځان له مسوول ګڼلو څخه را پیل کړي.

## ولسمشر غني: د تسلیمۍ پلان نه لرو، په ټول توان له خلکو او هېواد دفاع کوو

ولسمشر غني د کابینې په غونډه په هېواد کې په روانو حالاتو او وروستیو پرمختګونو خبرې کړې او خبرداری یې ورکړی چې طالبان په هېواد کې د روانې جګړې اصلي مسوول دي.

په داسې حال کې چې په افغانستان کې جګړه ورځ په ورځ زیاتېږي، خو ولسمشر غني ټینګار کړی چې هېڅ ډول معامله او د تسلیمۍ اراده نه لري او په خپل ټول توان به له هېواد او خلکو دفاع وکړي.

نوموړي ویلي: «که طالبان فکر کوي له موږ به تسلیمي اخلي، سلو کلونو کې به هم دې ارمان ته ونه رسي. د ویجاړۍ او وینې تویېدو مسوولیت د طالبانو او د هغوی د ملاتړو پر غاړه دی.»

غني داسې مهال دا څرګندونې کوي، چې رویټرز خبري اژانس وایي، د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد ورته ویلي چې بله میاشت به طالبان افغان حکومت ته په لیکلي بڼه خپل د سولې پلانونه وړاندې کړي. د افغانستان د حکومت او طالبانو د سولې مذاکره کوونکي په قطر کې دي.



د رویټرز په راپور کې ویل شوي چې د سولې خبرې به چټکې او یوې بلې مرحلې ته داخلې شي. په همدې حال کې د افغانستان د ملي امنیت د شورا مشاور حمدالله محب په کابل کې په یوه خبري کنفرانس کې یو ځل بیا پر طالبانو نیوکه وکړه چې په مختلفو بهانو د سولې خبرې ځنډوي.

د محب په خبره: «زموږ د مذاکرې ټیم اوس هم خبرو ته حاضر دی، خو طالبان مذاکره نه کوي. د افغانانو او بلکې ټولې نړۍ توقع دا وه چې د افغانستان مسئله د خبرو له لارې حل شي.»

دا خبرې داسې مهال مطرح کېږي چې طالبانو په ځینو ولایتونو کې یو شمېر ولسوالۍ نیولي دي، خو محب وایي چې افغان ځواکونو د طالبانو د دا ډول بریدونو تمه نه لرله او اوس دوی د تهاجمي بریدونو پر پلان جوړولو لګیا دي او ۱۴ ولسوالۍ یې بېرته له طالبانو نیولې دي، خو طالبان بیا ادعا کوي چې جنګیالیو یې لسګونه ولسوالۍ نیولې دي.

محب زیاتوي: «د کومو ولسوالیو تعمیرونه چې طالبانو نیولي، هلته به بېرته حاکمیت احیا کوو. موږ نه شو ویلای چې هلته طالب حاکمیت لري، ځکه هلته ټول خدمات درېدلي.»

دا په داسې حال کې ده چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته د طالبانو بریدونه زیات شوي دي. افغان چارواکي وایي چې طالبان هڅه کوي د زور له لارې واک ترلاسه کړي.

## د کتــاب خبــري

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکتور فرېنکل**
ژباړن: **میراحمدیاد**




### د بېګار د کمپ (زندان) تجربې

وروسته به يې درسره شريک کړم. زندان ته چې په اوله ورځ راغلم، د همدې افکارو او نظرياتو له مخې مې له ځان سره ويلي وو چې اغزن سيم ته به نه ځم (ځان به په برق نه نيسم). اغزن سيم ته ورتګ په زندان کې د ځان وژنې لپاره عامه کليمه وه، زندانيان به ورتلل او ځانونه به يې په هغه برق نيول چې سيم او جاليو ته به ورکړل شوی و. دا پرېکړه راته ډېره سخته نه وه. ځان وژنه ځکه مهمه نه وه چې دلته د ژوندي پاتې کېدو يا له دې ځايه د وتو امکان په نشت حساب و. هېڅا پر ځان دا باور نه درلود چې له ټولو پروسو به ژوندی وځي. د شويتز بنديان به د ارواييي ټکان په لومړي پړاو کې له مرګه وېرېدل؛ خو يو څو ورځې وروسته به بيا حتی د مرګ د خونې وېره هم ختمېده.

وروسته مې ځينې ملګري وليدل، هغوی راته وويل ته په هغو کسانو کې نه وې چې زندان ته په راتلو ټکان وخوري او وارخطا شي. زه ورته موسکی شوم. کيسه داسې شوه چې د زندان په دويمه ورځ يوه پېښه وشوه. مور ته يې اخطار راکړی و چې له خپلو بلاکونو به بهر نه وځئ؛ خو زما يو ملګری څو ورځې مخکې دې زندان ته راوړل شوی و، هغه په پټه له خپل بلاکه راوتی و او زموږ کوټې ته راغلی و. هغه يوازې په دې خاطر راغلی و چې موږ ته يو څو خبرې وکړي او لږ مو ارام کړي. دومره وچ کلک شوی و چې په لومړي سر کې مې ونه پېژانده؛ خو موږ ته يې په منډه منډه يو څو خبرې وکړې: «وېرېږئ مه! وار مه خطا کوئ. د شويتز زندان سرطبيب ډاکټر ايم، له ډاکټرانو سره لږ نرم چلن کوي.» (خو زما د ملګري دا خبره ناسمه وه، يو بندي د څو بلاکونو ډاکټر و. عمر يې له شپېتو کلو اوښتی و، ما ته يې کيسه وکړه چې زما زوی يې د ګاز خونې ته د وژلو لپاره بوته، ما ډاکټر ايم ته ډېرې زارۍ وکړې چې زوی مې مه لېږه؛ خو هغه مې خبره ونه منله.

ملګري خبره وغځوله: «خو يو سوال درته کوم چې ږيرې هره ورځ خرېيئ، حتی که نور څه نه وي، يوه ښيښه پيدا کوئ، په هغې يې خرېيئ، که يو کپ ډوډۍ درسره وي، ورېې کړئ؛ خو ږيره مه پرېږدئ. له دې سره به ځوانان ښکارئ او غومبوري به مو سره وي. دلته د ژوندي پاتې کېدو يوازينۍ لاره دا ده چې د کار ښکاره شئ. مثلاً، که پونده مو ټناکې وه، تاسو پښه کړه کېښوده او په همدې وخت کې د SS افسر وليدئ، نو پوه شئ چې سبا ورځ مو د ګاز په خونه (تنور) کې ده. تاسو پوهېږئ چې دلته «بېکاره» څه ته وايي؟ هغه ته وايي چې مخ يې وچ مکل وي، جلد يې پر هډوکو نښتی وي او د درنو کارونو وس يې نه وي. همدا بېکاره دی. داسې کس زر يا وروسته؛ خو زياتره وخت زر د ګاز خونې ته لېږل کېږي. نو دا ياد ساتئ. ږيرې خرېيئ او نېغ نېغ ګرځئ. که داسې وئ، نو له ګازخونې مه ډارېږئ. دا تاسو ټول چې دلته ولاړ يئ، ان که ۲۴ ساعته مو تېر کړي وي، بيا هم د ګاز له خونې وويرېږئ، حتی ته هم.» بيا يې ما ته اشاره وکړه او وې ويل: «فرانکله! هيله ده زما په خبرو خپه نه شې. په تاسو ټولو کې دا هغه کس دی چې له راتلونکې ټاکنې بايد وويرېږي، نو زړه مه خورئ!» زه موسکی شوم او پر دې باور لرم که هغه ورځ زما پر ځای بل هر څوک وای، همدا کار به يې کولای.

**دوام لري...**

# کیمیايي عنصرونه

**اکسوس کتابپلورنځی**

ډېری پوهان داسې ګڼي چې په ژوندي اورګانېزم کې نه يوازې ټول کيميايي عنصرونه شته، بلکې هر يو يې ټاکلې بيولوژيکي دنده سرته رسوي. څېړنو دا مالومه کړې چې ۳۰ کيميايي عنصرونه د انسان په بدن کې ارزښتناک رول لوبوي او انسان نه شي کولای چې د دوی له شتون پرته په نورمال حالت سره ژوند وکړي. دا عنصرونه د انسان د ژوند لپاره حتمي او اړين ګڼل کيږي. پر دې سربېره، داسې عنصرونه هم شته چې په ډېره لږه کچه د انسان په بدن کې شته او په لږه کچه د انسان پر بدن زهري اغېز نه لري، خو که چيرې يې کچه زياته شي، نو بيا د انسان د بدن لپاره په زهرو بدليږي.

د ځمکې پر سر ټول ژوندي اورګانېزمونه د انسان په ګډون له چاپېريال سره ټينګې اړيکې لري. دغه ژوندي اورګانېزمونه په بدن کې د پرله‌پسې بدلون او ميتابولېزم غوښتونکي دي. له خوراک‌توکيو او د څښاک له اوبو سره يو ځای د انسان بدن ته نږدې ټول کيميايي عنصرونه ننوځي. د دوی يوه کچه په بدن کې پاتې کيږي او د ځينو يې يوه کچه ښايي چې له بدنه ووځي. د دې کتاب «کيميايي عنصرونه د انسان په بدن کې» د ليکنې موخه دا ده چې زموږ لوستونکي په تېره بيا زده کوونکي، د طب او ځينو نورو پوهنځيو محصلين او استادان په دې برخه کې لږ تر لږه يو ټوليز- پوهنيز او مالوماتي انځور ولري. په دې اثر کې ټول راوړل شوي ارقام د انسان د بدن د ۷۰ کيلوګرامه وزن په شمېر څېړل شوي او بيان شوي دي. د دې کتاب په وروستۍ برخه کې د ځينو نومونو پېژندونه (تعريفونه) وړاندې شوي چې کولای شي د کتاب د لوست او د توکيو د زده کړې پر مهال له لوستونکيو سره مرسته وکړي.

د انسان په بدن کې کېدای شي چې ټول کيميايي عنصرونه وموندل شي، ان تر سرو زرو پورې هم او همدا راز په خواشينۍ سره د راډيو اکټيويټي تجزيې عنصرونه هم پکې شته. له ۹۴ هغو کيميايي عنصرونو څخه چې په طبيعت کې موندل کيږي، ۸۱ يې د انسان په اورګانېزم کې موندل شوي دي. بې له دغو عنصرونو موږ نه شو کولای ژوند وکړو. که چيرې دا عنصرونه زموږ په بدن کې تر ټاکلې او اړينې کچې (اندازې، مقدار) لږ وي، نو موږ ځان ښه نه احساسوو او ان ناجوړه کېږو، خو که چيرې تر ټاکلې کچې ډېر هم شي، موږ به ځان ښه احساس نه کړو.

د انسان په اورګانېزم کې ټول کيميايي عنصرونه په دوو ګروپونو وېشل کيږي چې هغه ماکروعنصرونه (macronutrients) او ميکروعنصرونه (minerals) يا مينرالونه دي.

د ماکروعنصرونو په شمېر کې هغه کيميايي عنصرونه راځي چې په بدن کې يې کچه تر ۰۰۱,۰ سلنه زياته ده، لکه اکسجن، کاربن، هايدروجن (۵,۱۰ سلنه)، اوسپنه، پوتاشيم (۲۷,۰ سلنه)، کلسيم (۴,۱ سلنه)، مګنيزيم (۰۴,۰ سلنه)، سوډيم (۲٦,۰ سلنه)، نايتروجن، سلفر، فاسفورس او کلورين. دا څلور عنصرونه لکه کاربن، هايدروجن، اکسجن او نايتروجن هغه ارزښتناک او ډېر مهم کيميايي عنصرونه دي چې کله کله يې «د کيميا نهنګانو»، او «د ژوند عنصرونو» په نامه هم يادوي. د دغو ۱۲ عنصرونو له اتومونو څخه نه يوازې ژوندي پروټينونه جوړ دي، بلکې زموږ شاوخوا ټول طبيعت هم ترې جوړ دی.

پردې سربېره، په ټولو اورګانېزمونو کې د درنو فلزونو لږه اندازه هم شته او دا ۱۵ کيميايي عنصرونه دي لکه اوسپنه، ايوډين، مس، جست، کوبالټ، کروميم، موليبډينيم، واناډيم، سيلينيم، منګانيز، ارسينيک، سيليکون، او ليتيم. دا عنصرونه د ژوند لپاره ډېر اړين بلل شوي او منل شوي دي.

مينه‌وال کولای شي ياد کتاب پر اکسوس سربېره د ښار له نورو لويو کتابپلورنځيو هم په مناسب قيمت تر لاسه کړي.


**روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه**

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | ليکوال/ژباړن | بيه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د حجاز سيلۍ | عنايت الله التمش/عبدالواسع صابر | ۲۲۰ؤ |
| ۲ | ويستلې توره (لومړی او دويم ټوک) | عنايت الله التمش/ ذبيح الله عطايی | ۳۰۰ؤ |
| ۳ | د بريا سفر | بشير جمعه/ظاهر عمار | ۱۵۰ؤ |
| ٤ | له ناکامۍ يې زده کړه! | سلوی العضيدان/محمد ظاهر عمار | ۱۲۰ؤ |
| ٥ | د بريا تمځای | عائض القرني/محمد ظاهر عمار | ۱۳۰ؤ |
| ٦ | THE SPEED OF TRUST | STEPHEN M.R. COVEY | ۲۴۰ؤ |
| ۷ | COMMITTE A LOVE STORY | ELIZABETH GILBERT | ۲۴۰ؤ |
| ۸ | FAILING FORWARD | JOHN C.MAXWELL | ۱۴۰ؤ |
| ۹ | BORN FOR THIS | CHRIS GUILLEBEAU | ۲۷۰ؤ |
| ۱۰ | The Magic of Beliebing | Claud M. Bristol | ۱۵۰ؤ |
| ۱۱ | The Startup Way | ERIC RIEs | ۲۴۰ؤ |
| ۱۲ | WAY OF THE WOLF | JORDAN BELFORT | ۱۵۰ؤ |
| ۱۳ | Good To Great | Jim Collins | ۳۵۰ؤ |
| ۱٤ | OPD Oxford picture dictionary-English-persian | Norma shapiro | ۳۵۰ؤ |
| ۱٥ | THINKING FOR A CHANGE | JOHN C.MAXWELL | ۱۷۰ؤ |
| ۱٦ | THE NECTAR OF PAIN | NAJWA ZWBIAN | ۲۵۰ؤ |
| ۱۷ | How to Change Your Mind | Michael Pollan | ۲۵۰ؤ |
| ۱۸ | The $100 STARTUP | Chris Gullebeau | ۲۰۰ؤ |
| ۱۹ | The Bezos Letters | Steve Anderson | ۱۷۰ؤ |
| ۲۰ | The Power | Rhanda Byrne | ۳۵۰ؤ |
| ۲۱ | The 4 Hour Workweek | Timothy Ferriss | ۳۵۰ؤ |
| ۲۲ | اساسات جيوديزی(سروينګ) | شاه ولي خرګند | ۵۰۰ؤ |
| ۲۳ | له ژونده مې دا زده کړل... | مصطفی السباعي/محمد ظاهر عمار | ۱۰۰ؤ |
| ۲٤ | د اوبو لګولو انجنيري | اصغر غفورزی | ۲۵۰ؤ |
| ۲٥ | د لويو لارو انجنيري (سړک جوړونه) | ايس.کی.خانا ، سي يي.جسټو/محمد فريد عاطف | ۲۵۰ؤ |
| ۲٦ | د ودانيو د برآورد لارښود | نورالرحمن نوري | ٦۰۰ؤ |
| ۲۷ | سيول انجنيري | امداالله جديدي | ۳۵۰ؤ |
| ۲۸ | عقربه قلب | محمد فتح الله ګولن | ۱۸۰ؤ |
| ۲۹ | راه دشوار | محمد فتح الله ګولن | ۲۰۰ؤ |
| ۳۰ | جاسوسي | فريدالله احمدزی | ۲۲۰ؤ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړيکه ونيسئ**

پته: دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ — اړيکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۱,۸۰ |
| € | ۹٦,٦۰ |
| Rp. | ۵۰٤ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۱۸۰ |
| £ | ۱۱۲,۵۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

# افغان جګړه او سیمه‌ییزې اندېښنې؛
## محب: په هېواد کې د جګړو شدت ګاونډي او سیمه‌ییز هېوادونه اندېښمن کړي

د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب وایي چې په هېواد کې د جګړو او ناامنیو زیاتېدو د افغانستان ګاونډي او سیمه‌ییز هېوادونه اندېښمن کړي او له همدې کبله دغو هېوادونو د خپل امنیت د ټینګښت په موخه له افغانستان سره ګډې پولې ته نږدې، ځینې اقدامات هم پیل کړي دي.

حمدالله محب وایي چې روسیې ته د وروستي سفر پر مهال د دغه هېواد چارواکو ورسره په افغانستان کې پر ډېرېدونکې نا امنۍ اندېښنه ښودلې، خو نوموړي ډاډ ورکوي چې له دغو هېوادونو سره به په ګډه د ټولو هغو ګواښونو پر وړاندې کوټلې ګامونه اوچت کړي، چې د افغانستان او ګاونډیو هېوادونو امنیت ګواښي. نوموړی دغه راز زیاتوي: « هغه هېوادونه چې زموږ او ستاسو همسایه دي او دوست هېوادونه دي، دوی ډېر تشویش لري، چې که خدای ناخواسته دلته نا امنۍ زیاتېږي، د دوی پر امنیت هم ناوړه اغېز لري، موږ له دوی سره په تماس کې یو، ترڅو په ګډه د دغو ګواښونو پر وړاندې مقابله وکړو.» د محب په خبره، له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته تمه دا وه چې د سولې خبرې به ژر یوې پایلې ته ورسېږي، خو د ده په خبره، طالبانو د سولې پر ځای پر جګړې تمرکز ډېر کړی دی. محب دغه راز وایي چې امنیتي ځواکونه چمتووالی نیسي تر څو هغه سیمې بېرته تر خپلې ولکې لاندې راولي، چې په تېرو څو اونیو کې یې د جګړو د شدت له کبله ترې شاتګ کړی و. د محب په وینا: «زموږ او د افغانانو تمه دا وه چې د بهرنیانو په وتلو سره طالبانو ته د جګړې د دوام بهانه نه پاتې کېږي، خو دوی د دې ټول خلاف جګړې زیاتې کړې... دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او ملي امنیت ریاست په ګډه کار کوي، ترڅو له لاسه وتلې سیمې بېرته ونیسي». محب داسې مهال دغه څرګندونې کوي، چې په دې وروستیو کې د هېواد په شمالي ولایتونو کې جګړې شدیدې شوې او ګڼې سرحدي ولسوالۍ او د شېرخان بندر د طالبانو لاس ته لوېدلي دي. بلخوا تاجکستاني رسنیو هم په دې وروستیو کې راپور ورکړ، چې د افغانستان په شمال کې د جګړو د شدت له کبله تر زر ډېر افغان پوځیان د تاجکستان خاورې ته اوښتي او یاد هېواد هم له افغانستانه د امنیتي ګواښونو د دفع کولو په موخه خپل ۲۰ زره ځواکونه ګډې پولې ته نږدې ځای پر ځای کړي دي.



د جګړو او نامنیو له ډېرو سره جوخت په دوحه کې د افغان سولې د مذاکراتي ټیمونو ترمنځ ناستې هم پیل شوې دي. د سولې وزارت چارواکي وایي چې د دواړو ټیمونو تماس ډلو او غړو ترمنځ مکررې ناستې روانې دي او دوی هڅې چې دغه خبرې یوې مطلوبې پایلې ورسوي. د دغه وزارت ویانده ناجیه انوري زیاتوي: « د دواړو مذاکراتي ټیمونو د تماس ډلو ترمنځ ناستې په دوحه کې دوام لري، همدارنګه د داخلي پلاوو ترمنځ هم هره ورځ ناستې کېږي، زموږ هڅه دا ده چې دا پروسه یوې مطلوبې پایلې ته ورسېږي».

د افغان جګړې او سولې په تړاو دا څرګندونې داسې مهال دي، چې وسله وال طالبان ادعا کوي، په تېرو دوو میاشتو کې یې له سلو زیاتې ولسوالۍ نیولي چې ډېری دغه ولسوالۍ د هېواد په شمال ولایتونو کې دي.

## افغان حکومت: رسنۍ دې سرې کرښې مراعات کړي او د بیان له ازادۍ دې ناوړه استفاده نه کوي

افغان حکومت رسنیو ته خبرداری ورکړ، که په خپلو رسنیزو فعالیتونو کې د حکومت قوانین او ملي ګټې رعایت نه کړي، تر څېړنو لاندې به ونیول شي. د عدلیې وزیر فضل احمد معنوي تېره ورځ د خپرونو د کیفیت ښه کولو او رسنیزو فعالیتونو د قانوني کولو په اړه مشورتي غونډې ته وویل چې رسنۍ باید سرې کرښې مراعت کړي او د بیان له ازادۍ څخه ناوړه استفاده ونه کړي.

معنوي زیاته کړه: «په کوم ځای کې چې زموږ ملي ګټې له خطر سره مخامخ کېږي، دا مهمه نه ده چې د بیان ازادي لرو او یا دا چې ډیموکراتیک ارزښتونه مراعت شي او ناوړه استفاده وشي.»

معنوي وویل چې یو شمېر رسنیو د افغان امنیتي سرتېرو د مرګ ژوبلې او له لاس څخه وتلو وسلو په اړه د معلوماتو غوښتنه کړې، چې دا پوځي رازونه دي او د قانون خلاف دي.



په ورته مهال د افغانستان لوی څارنوال ذبیح الله کلیم په دغه ناسته کې وویل چې د اطلاعاتو رسول باید اصولي شي او خبرداری یې ورکړ چې د سرغړونې په صورت کې به د دغه هېواد رسنۍ تر څېړنو لاندې ونیول شي. هغه زیاته کړه: «د افغانستان نافذه قوانین د بېځایه اوازو، دسیسو، د غیر واقعي او یو طرفه خبرونو په اړه چې تمامیت ارضي، د هېواد لویو او ملي ګټو ته زیان ورسوي، جرم ګڼل کېږي، د هغه اړوند جدي چلند کېږي... وړاندیز کوو چې په رسنیو کې د اطلاعاتو رسولو د څرنګوالي په برخه کې روښانه میکانېزمونه رامنځته شي.»

کلیم ټینګار وکړ، چې رسنۍ او خبریالان باید د خپلو خپرونو په جریان کې د وضعیت حساسیت او جزایي ماهیت ته متوجه اوسي. د یادونې ده چې اوسمهال د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ له وزارت سره څه باندې ۳۵۰۰ رسنۍ ثبت دي. دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په دغه هېواد کې د خبریالانو لپاره وضعیت تر بل هر وخت خراب شوی دی.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا وبا د مړو شمېر له څلورو میلیونو کسانو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر۱۸۵ میلیونه او ۱۱۹ زره او ۸۴۹ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله څلور میلیونه او درې زره او ٦۱۸ کسان مړه شوي او له ۱٦۹ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۴میلیونه او ۵۹۹زره او ۱۸۷ ته رسېدلي او ٦۲۱ زره او ۳۴٦ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۳۰میلیونه او ٦۴٦ زره او ۵۵۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۸ میلیونه او ۷۹۲زره او ۵۱۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د پنځه میلیونه او ۷۸٦ زره او ۹۹۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او روسیه د پنځه میلیونه او ٦۵۲ زره او ٦۷۲ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.



ترکیه، برېټانیا، ارجنټاین، کولمبیا او ایټالیا بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي. که څه هم په نړۍ کې د کرونا ویروس پېښې د خپرېدو په حال دي، خو د امریکا د متحده ایالتونو ولسمشر جوبایډن روانه اونۍ اعلان وکړ چې دغه ویروس نور پر امریکایانو کنټرول نه لري. بایډن دغه راز ټینګار وکړ چې میلیونونو امریکایانو د کرونا ضد ویروس کړی او د روان کال تر پایه به دغه اندازه دوه برابره زیاته شي.

له دې سره جوخت د نړۍ په ځینو هېوادونو کې د کرونا ویروس لا هم په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی او په یادو هېوادونو کې د کرونا څلورمه او پنځمه څپه هم خپره شوې ده. د کرونا پر چیني بڼې سربېره، په دې وروستیو کې د دغه ویروس پر برېټانوي او هندي بڼې میلیونونه کسان اخته شوي دي. ویل کېږي چې د دغو دوو بڼو د مړینې او خپرېدو کچه د چیني بڼې په پرتله ډېره چټکه ده.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ډیزاین: حسیب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
چاپخونه: وایګل چاپ
0202512626 / 0782989696

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



غوره کیفیت او چټک خدمات په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



چهارشنبه د ۱۴۰۰ د چنگاښ ۱۶مه | د ۲۰۲۱ د جولای اوومه | ۷۴۶مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳٦ | ٤٢ | ٤٣ | ٤٣ | ٤٥ | ۳۷ |
| ۲۰ | ۲٦ | ۲۷ | ۳۲ | ۲۸ | ۲٤ |


شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۲ | لمر ختل ۰۴:۴۷ | ماسپښین ۱۱:۵۸ | مازیگر ۰۵:۰۰ | ماښام ۰۷:۱۰ | ماخوستن ۰۸:۵۴

## نړۍ



تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا وبا د مړو شمېر له څلورو میلیونو کسانو واوښت ۵

## راپورونه: په روسیه کې د الوتکې د لوېدو په پېښه کې ۲۸ کسان مړه شوي



روسي رسنیو راپور ورکړی چې په دغه هېواد کې د الوتکې د لوېدو په پېښه کې ۲۸ کسان مړه شوي دي. دوی زیاته کړې چې د هغې الوتکې هېڅ سورلۍ ژوندۍ نه ده پاتې، چې تېره ورځ له راداره ورکه شوې وه.

چارواکو ویلي د AN-۲٦ ډوله الوتکې ټوټې یې د لېرې ختیځ کامچټکا سیمې د اوخوتسک هوایي ډگر په پنځه کیلومترۍ کې موندلې دي. د دوی په خبره، دې الوتکې غوښتل په همدې ډگر کې ناسته وکړي چې اړیکه یې د هوایي کنټرول له څانگې سره پرې شوې وه.

د روسیې تاس خبري اژانس د یاد هېواد د ځینو چارواکو په حواله چې د نومونو د نه خپرولو غوښتنه یې کړې، راپور ورکړی چې له ۲۲ سورلیو او ۸ عملې څوک ژوندي نهدي پاتې. د چارواکو په خبره، دغه الوتکه د کامچټکا هوایي چلند په شرکت پورې تړلې وه.

د یادونې ده چې روسیه تر دې مخکې هم د الوتکو د غورځېدو یا تخنیکي ستونزو شاهده وه، چې گڼو خلکو ته پکې مرگ‌ژوبله اوښتې.

د همدغه کامچټکا هوایي چلند شرکت یوه ورته AN-۲٦ ډوله الوتکه په ۲۰۱۲ز کال کې هم په همدې مسیر چې په غرونو ولگېده او له ۱۴ سورلیو یې ۱۰ تنه ووژل شول.

## د بې پولې خبریالانو سازمان عمران خان د بیان پر ازادۍ د بندیز لگوونکو په لېست کې شامل کړی

د بې پولې خبریالانو نړیوال سازمان د پاکستان لومړی وزیر عمران خان او د هند لومړی وزیر نریندرا مودي د بیان پر ازادۍ د بندیزونو لگوونکو په لېست کې شامل کړي دي.

دغه نړیوال سازمان د جولای پر خپله وېب‌پاڼه د هغو ۳۷ حکومتونو د مشرانو عکسونه خپاره کړي، چې په خبره‌یې، د بیان ازادۍ ته یې زیان رسولی دی.

یاد سازمان لیکي، له کله نه چې عمران خان د پاکستان لومړی وزیر شوی، نو په دغه هېواد کې د رسنیو ادارو ته گواښونه شوي او کوم خبریالان چې د دوی په وینا، له سرو کرښو تېرېږي، نو تښتول کېږي او تشدد پرې کېږي.

بلخوا د پاکستان د مسلم لیگ (ن) گوند ویاندې مریم اورنگزېب په یو بیان کې ویلي چې یاد راپور د حکومتي گوند پاکستان تحریک انصاف پر ضد رسمي تورونه دي.

که څه هم د پاکستان حکومت د بې پولې خبریالانو دغه اقدام ته په غبرگون کې څه نه دي ویلي، خو تر دې وړاندې یې بیا وار وار ویلي چې رسنۍ یې بشپړې ازادې دي.

د بې‌پولې خبریالانو په یاد لېست کې له عمران خان او مودي پرته د سعودي ولیعهد محمد بن سلمان، د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان او د یو شمېر نورو حکومتونو مشران شامل دي.

## عمران خان: هند پس از خروج نیروهای بین‌المللی بزرگ‌ترین بازنده در افغانستان است



عمران خان، نخست‌وزیر پاکستان، می گوید که با خروج نیروهای امریکایی از افغانستان، وضعیت منطقه دچار تغییرات جدی خواهد شد و در این تغییرات هند «بزرگ‌ترین بازنده» خواهد بود.

به گزارش جیونیوز، خان این اظهارات را در سخنانی با خبرنگاران در گوادر پاکستان مطرح کرده است. عمران خان گفته است که در این میان ایالات متحده امریکا نیز زیان می‌بیند.

نخست‌وزیر پاکستان می گوید که هند میلیاردها دالر در افغانستان – کشوری که وضعیت پیچیده دارد- سرمایه‌گذاری کرده است و با خروج نیروهای بین‌المللی دچار مشکل خواهد شد.


عمران خان می گوید که هند درگیر تروریزم است و شواهد واضح وجود دارد که نشان می‌دهد، هند در حملات تروریستی در لاهور دست دارد.

او از جانب دیگر گفته است که پاکستان دیدگاه و موضع واضح در قبال افغانستان دارد و آن این است که هیچ راه حل نظامی برای مساله افغانستان وجود ندارد و همه طرف‌ها مشترکاً در مورد آینده تصمیم بگیرند.

نخست‌وزیر پاکستان می‌گوید که تا زمانی که جهان به وضعیت افغانستان توجه نکند، خون‌ریزی‌ها ادامه خواهد یافت. این در حالی است که نیروهای بین‌المللی در حال خروج از افغانستان است. هم‌زمان با این جنگ در کشور نیز شدت گرفته است. با خروج نیروهای بین‌المللی کابل و اسلام نیز گاهی دچار تنش لفظی شدید روی موضوع تروریسم و حمایت از طالبان شده است.

## ژوند

## لایکا خپل لومړنی ځیرک موبایل معرفي کړ




د جرمني مشهوره کمپنۍ چې د ځیرکو موبایلونو کامرې یې جوړولې، تازه یې مینه‌والو ته خپل نوی ځیرک موبایل معرفي کړی. دغه ځیرک موبایل لایټز فون۱ نومول شوی دی. دغه ځیرک موبایل جاپان کې معرفي شوی دی او بیه یې ۱۷۰۰ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده. دغه ځیرک موبایل ٦,٦ انچه اولېډ ډوله مخپاڼه لري چې له ۲۴۰ هرتز ریفرېش رېټ څخه هم ملاتړ کوي او ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري.

لایټز فون۱ کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراگن۸۸۸ ډوله پروسېسر، ۱۲ گیگابایټ رم او ۲۵٦ گیگابایټ د فایل ثبتونې وړتیا ورکړل شوې ده.

د دغه ځیرک موبایل تر ټولو غوره ځانگړنه د کامرې یو انچ ستر سېنسر لرونکې ۲۰,۲ مېگاپکسله کامره لرل دي، چې اوسمهال په نړۍ کې تر ټولو ستره شاتنۍ کامره بلل کېږي. دغه موبایل مخکینۍ برخه کې ۱۲,٦ مېگاپکسله سېلفي کامره هم لري.

## په ماشومانو کې د سر او ملا دردونو لامل څه دی؟



ډېری ماشومان د بېلابېلو لاملونو په سبب په سر او ملا کې د درد احساس کوي، خو پوښتنه دا ده چې د دې درد لاملونه څه دي او درملنه یې کېدلی شي؟ په اوسني دور کې د ملا او سر درد په ماشومانو او نوو بالغو ځوانانو کې عامې ستونزې دي، چې لوی لاملونه یې درانه کاروونه، د ښوونځي درنده بکسه او د موبایل ډېر استعمال دی. که څه هم ماشومان په دې کیفیت اخته کېدلی شي، خو ډېر وخت دغه درد د کومې جدي ناروغۍ نښه نه گڼل کېږي، بلکې په دماغو کې د کیمیاوي بدلونونو، عصبي او د وینې شریانونو، د غاړې او د سر د عضلو له فشار سره تړاو لري. روغتیایي کارپوهان وایي چې په ماشومانو کې د سر او ملا دردونه د هغوی ذهني او بدني روغتیا اغېزمنوي، نو ماشومانو ته باید د هغوی د وزن مطابق لس سلنه وزن لرونکې بکسه ورکړل شي. دوی وایي که چېرته له دې ډېره وزن لرونکې بکسه ورکړل شي، نو د ملا تیر ته زیان رسوي. دغه راز په گونډو د لپ‌ټاپ ایښودل او کمپیوټر ته تر ډېره کېناستل هم د یادو دردونو لوی لاملونه دي.


## کوچني او منځني سوداگریز پورونه

عزیزي بانک ستاسو د سوداگرۍ د پرمختگ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداگر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کېږي، ترلاسه کړي.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank